ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**نګينه بي بي**

ليکچرر, پښتو څانګه, عبدالولي خان پوهنتون مردان،خيبر پښتونخوا

# پښتو ادب ته د مومندو بخښنې

**Nagina Bibi ***
Lecturer, Pashto Department, Abdul Wali Khan University Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

***Corresponding Author:** nagina@awkum.edu.pk

## Mohmand's Contribution to the Pashto Literature

The Mohmands are one of the major Pashtun tribes. This tribe has contributed a lot to the Pashto language and literature, both in prose and poetry. This articles focus on the work of only the selected writers and their services, with immense contribution to the Pashto language and literature reaching its current potential. In the field of Pashto poetry, the work of a number of classical poets, including Rehman Baba, Hameed Baba, Maazullah Khan Momand, Abdul Kabeer and Ameer Khan Hijri has been highlighted. The article also mention work of the poets of the new era who contributed enormously to the field of Pashto poetry including Qalander Momand, Sahibzada Faizi, Raza Momande and Kakaji Sanober Hussain Momand. Similar to Pashto poetry, the article also highlight writers and literary figures from the Momand tribe, including Dost Muhammad Kamil, Qalander Momand, Wazir Muhammad Gul Khan Momand, Khwaja Muhammad Sail and Ayaz Ullah Tarakzai, who have done invaluable work in the field of prose enriching the Pashto language.

**Key Words:** *Mohmands, Literature, Pashto, Poetry, Prose, Writers.*

پښتون چې زرګونه کاله زوړ تاريخ لري او د لهجو او کلتوري رواياتو د تنوع په څېر بلها قبيلې هم لري. دغه قبائل چې پخوا به خپلو کښې ځينې دوستانې قبيلې هم وې ولې د ځينو قبيلو به سره خپلو کښې دشمنۍ هم وې. ولې نن سبا هغه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04
ماخذ تحقیقی مجلہ

قبائلي حدود تر ډېره حده ختم دي او هغه ټولې قبیلې د خپلو لهجو او کلتوري روایاتو او اقدارو په بنیاد د پښتون قام د امېل مختلفې ملغلرې دي چې د رنګارنګۍ او تنوع سبب دي.

د پښتنو په لویو قبیلو کښې یوه قبیله مومند هم ده. دا په لویه کچه د سړبن په اؤلاد کښې راځي او بیا په لاندې کچه د غوریاخېلو په شاخ کښې شامله ده. د غوریاخېل څلور ځامن، دولت یار، خلیل، څمکنے او زېړانے وو. بیا د دولت یار دوه ځامن وو چې یؤ مومند او بل داؤد وؤ. مومند بیا خان له په ډېرو شاخونو یا څانګو کښې تقسیم شوي چې هغې کښې خوېزي، حلیمزي، اتمانزي، بایزي، کوډاخېل، باره خېل، اتمرخېل، ترکزي، خلیل، موسی خېل، عیسی خېل، غازي او داسې نور بې شماره شاخونه لري.

مومند د افغانستان په مختلفو سیمو کښې هم مېشته دي او بالخصوص په لغمان، بلخ، کابل، غزني، کونړ، ننګرهار او زابل کښې په ګڼ تعداد کښې موجود دي. هم دا راز په کوزه پښتونخوا کښې د مومند په علاقه کښې چې وړاندې په مومند ایجنسی یادېده او د انضمام نه پس اوس د پښتونخوا برخه ده چې غلنۍ علاقه ئې مرکز دے او مغرب ته ترې افغانستان دے، جنوب ته ترې خېبر، مشرق ته ئې پېښور دے او شمال ته ئې باجوړ دے. دغه رنګ د چارسدې، نؤښار او پېښور په مختلفو سیمو کښې بې شماره مومند ژوند کوي.

د مومندو قبیلې په حقله ډاکټر نګاه حسېن په خپل کتاب کښې لیکي:

> "مومند قبیله په دوؤ غټو جزونو کښې تقسیم کړې شوې ده. د مومندو یوه حصه په ستمبر 1893 کښې د ډیورنډ لائن مونږ نه جدا شوه او په افغانستان کښې پاتې شوه. یؤ حصه د مشرق په اړخ پاتې شوه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04


چې موجوده وخت کښې پاکستان
دے. بیا د مشرق والا حصه
مزید په دوؤ حصو کښې هغه
وخت تقسیم کړې شوه چې څۀ
وخت په 1944 کښې مومند
ایجنسي جوړه کړې شوه. د غرۀ
مومند په ایجنسی کښې راغلۀ
او د پېښور مېداني علاقو کښې
مومند خان ته پاتې شول." (1)

پښتو ژبې اؤ ادب ته د مومندو قبیلې ډېرې ورکړې دي، هغه که په نثري ادب کښې وي اؤ که منظوم ادب کښې. د دغې منثور اؤ منظوم کار احاطه په یوه مقاله کښې ممکن نۀ ده ولې دلته محض د هغه نومورو لیکوالانو اؤ د هغوي د خدماتو تذکره کوو چې په سبب ئې پښتو ژبه اؤ ادب تر دې دمه د پوره توان سره راغلې ده.

منظومې بخشنې:

منظومو بخشنو کښې مونږ سره یؤ شمې کلاسیکي شاعران هم مخې ته راځي اؤ جدید شاعران هم نو د تقدمِ زماني په بنیاد باید چې اول د کلاسیکي شاعرانو ذکر وکړو.

رحمان بابا:

عبدالرحمان بابا د پښتو ژبې اؤ ادب په تاریخ کښې تر ټولو زیات مقبول اؤ معروف شاعر دے.د هغۀ دیوان د مقدار لۀ رویه دومره ضخیم نۀ دے ولې د معیار اؤ مقبولیت لۀ رویه نۀ صرف د ادبې خلقو سره موجود دے بلکې عام اولس ئې د خان سره ساتي اؤ په درنه سترګه ورته ګوري. د سوات بابا باجې عبدالغفور صاحب به وئیل چې کۀ د قرآن نه علاوه په بل څۀ مونځ کېدې نو ما به د رحمان بابا په دیوان کولو. دغه عظیم اؤ منلے شوے شاعر په خټه مومند دے.

حمید بابا:

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04
ماخذ تحقیقی مجلہ

د پښتو کلاسيکي شاعرۍ يو بل نوموړے شاعر چې د مومند قبيلې سره تعلق لري هغه عبدالحميد مومند دے چې د خپلې اعلی نازک خيالۍ په وجه په مو شګاف شهرت لري.کال 1075 کښې زېږېدلے او د 1155 نه پس ته وفات دے. حميد بابا يو ديوان د "در و مرجان" په نوم لري چې د اعلي شاعرۍ غوره نمونه ده او د نازک خيالۍ د دبستان سره تعلق لري بلکې پښتو کښې خو ئې حميد بابا سرخېل دے. د ديوان نه علاوه حميد مومند په ترجمه نګارۍ کښې هم کار کړے. د "نيرنګ عشق" او "شاه و ګدا" په نوم دوه داستانونه او د فارسي د "شرعة الاسلام" پښتو ترجمه ئې هم کړې ده.

معزالله خان مومند:

معزالله خان مومند د رحمان بابا د مکتب شاعر وؤ هم د هغۀ د عصر سره ئې تعلق لرلو د اندازې تر مخه 1167 پورې ئې ژوند يقيني وؤ. د دۀ ديوان همېش خليل د "ديوان معزالله خان مومند" په نوم او خيال بخاري د "ديوان معزالله خان مومند مسمی به آئينۀ معنی نما" په نوم چاپ کړے.د دۀ د شاعرانه مقام په حقله عبدالله جان عابد ليکي چې:

> "د معزالله خان مومند شمار کۀ يو طرف ته د پښتو کلاسيکي شاعرۍ د وړومبي صف په شاعرانو کښې کېږي نو بلخوا د خپل فارسي کلام په وجه هغه د ايران د استاذانو شاعرانو هم قدم په نظر راځي. او د اردو کلام خو ئې په مکمله توګه د دکن د کوم قديم اردو شاعر کلام معلومېږي."(2)

عبدالکبير:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04
ماخذ تحقیقی مجلہ

د تاکال پېښور سره تعلق لرونکے د احمد شاه بابا د زماني شاعر دے. د دۀ په حقله صديق الله رښتين وائي چې:

"عبدالکبير د پښتو ژبې يو تکړه شاعر او د زياتو اثارو خاوند دے. د حافظ کبير او اخوند کبير په نومونو هم ياديږي. شاغلے عبدالحليم اثر په "تېر هېر شاعران" کښې ليکي ((چې دے د پېښور د تاکال اوسېدونکے وۀ او قياس دا دے چې په قام خليل مومند وۀ)). دے د احمد شاه بابا هم زمانه او د دغه وخت يو لوے عالم او پوه شاعر دے.وائي چې قبر ئې د تاکال په زړه مقبره کښې د غريب اباد سره نزدې پوره شهرت لري." (3)

د عبدالکبير کتابونو کښې دارالمجالس، معجزات، مناجات، جنت الفردوس او دافع الفقر شامل دي. مجموعي طور د دۀ شاعري صوفيانه او مذهبي رنګ کښې رنګ ده او پند و نصيحت هم لري.

ملا رکن الدين:

ملا رکن الدين خوے د حافظ ﷴ منير هم د احمد شاه بابا د زماني شاعر دے. يو عالم فاضل سړے وۀ او په خټه دوېزے مومند وۀ. د پېښور ښار په هزارخانی کښې ئې ژوند کړے دے. (4)

دۀ په عربی فارسی او پښتو درېواړو ژبو عبور لرلو. د شيخ عبدالقادر جيلاني منقبت ئې د مثنوي په شکل ليکلے دغه رنګ د خپل پير شاه غلام قادر منقبت ئې هم د مثنوي په صورت کښې ليکلي. دي نه علاوه ئې د احمد شاه بابا په ستائنه کښې هم مثنوي ليکلي ده.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04



امیر خان هجري:
دا شاعر هم د مومند قبیلي سره تعلق لري. د دۀ تعارف صدیق الله رښتین څۀ دا رنګ کړے دے.

"د دیارلسمې پېړۍ د اولې
برخې یۀ خوږ ژبې مګر پۀ
زړۀ خوږمن شاعر دے. دے
پۀ قام الیزے یا الیزوکې
حسن خېل مومند دے."[5]

د دۀ د دیوان قلمي نسخه پۀ انډیا افس لائبرېرۍ لندن کښې موجوده ده چې پښتو اکېډمۍ پېښور کښې ئې نقل هم شته.

دا او داسي نور یو شمېر شاعران چې د پښتو پۀ زړه شاعرۍ کښې لوے مقام لري او دیوانونه ئې د پښتو ژبې او ادب د ویاړ سبب دي. ولې اوس دلته د هغو څو شاعرانو ذکر کوو چې د نوي دور سره تعلق لري او د هغوي نامې د پښتو شاعرۍ پۀ مد کښې د یادولو وړ دي.

قلندر مومند (1930-2003):

قلندر مومند د مومند قبیلي هغه لوے شاعر او ادیب دے چې پښتو کښې د شاعر یو دبستان پۀ خپل وخت کښې د حمزه بابا وۀ او دویم د قلندر مومند. د قلندر دوه شعري مجموعي د "سباوون" او رڼائي" پۀ نومونو چاپ دي چې د خپل ترقي پسند فکر او د فني پختګۍ لۀ وجې پۀ پښتو شاعرۍ کښې یو لوے مقام لري. قلندر مومند غزل هم لیکلے او نظم هم. او دواړه ئې د معیار لۀ رویه د اوچتې پائې لیکلي دي. کۀ د خوشحال بابا د دور قلندر نیم سړے وۀ نو د شلمې صدۍ قلندر مومند واقعي چې پوره سړے وۀ.

صاحبزاده فېضي (1923-2005):

خپل نوم ئې فېض الرحمان دے او فېضي تخلص لري او دا د قلندر مومند مشر ورور وۀ چې یو د اعلي پائې شاعر وۀ. د خپل عصر پۀ شاعرانو کښې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04


لوړ مقام لرلو خو کلام ئې ټول ناچاپه پروت دے لا تر دې دمه چاپ نهٔ دے.

رضا مومندي (1925-1999):

رضا مومند د هزار خوانی سره تعلق لرلو اؤ د مومندو شاعرانو په لړ کښې يؤ اهم نوم دے. پښتو ادب ته ئې د شاعرئ په لړ کښې درې مجموعې د 'بړاس"، "د ژوند ساز" اؤ "يادونه انګارونه" په نومونو ورکړې دي.د دهٔ د شاعرانه عظمت په حقله همېش خليل وائي چې:

> "په حېث د شاعر د رضا مومندي شاعرانه تخيل د نزاکت اؤ لطافت سره سره معنوي خوبيانې هم لري. د دوي شاعري د احساساتو دردناک تصويرونه اؤ هغه غمناک نقشونه دي چې لوستونکي هم د ځان سره په درد اؤ غم کښې شريکوي."(6)

کاکاجي صنوبر حسېن مومند:

د شاعرئ په مد کښې کاکاجي صنوبر هم يؤ اهم نوم دے اګر چې شاعري ئې لږه کړې ده خو ولې معياري کلامونه ئې ليکلي دي. د پښتو ترقي پسند تحريک باني کاکاجي صنوبر حسېن مومند وهٔ. د کاکاجي يوه شعري مجموعه ده چې لا تر دې دمه ناچاپه ده. د "د خوبانو خطونه" په نوم ئې د کلاسيکي شاعرئ نه انتخاب شعرونه د سجاد ژوندون په ترتيب اؤ تدوين چاپ دي چې مختصره مجموعه ده.

نثري بخښنې:

د شاعرئ سره سره د نثر په مېدان کښې هم د مومند قبيلې ليکوالانو اؤ اديبانو بېش بها کار کړے اؤ د پښتو لمن ئې درنه کړې ده. دلته په دغه قسمه نثري ورکړه خبرې کوو.

دوست محمدؐ کامل مومند:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04


د دوست محمد خان کامل مومند ډېر لوے خدمات دي.د هغۀ په کتابونو کښې يؤ "خوشحال خان خټک" د خوشحال بابا د ژوند اؤ شاعرئ په حقله يؤ ډېر جامع اؤ علمي کتاب دے. دغه رنګ "رحمان بابا" ئې د رحمان بابا د عهد اؤ شاعرئ په حقله يؤ بېش بها کتاب دے. د افضل خان خټک د مشهور کتاب تاريخ مرصع ترتيب تدوين مقدمه اؤ نوټونه کامل مومند ليکلي دي. د خوشحال بابا کليات ئې د مقدمې اؤ حاشيو سره مرتب کړے دے. قلندر مومند سره ئې په شريکه د رحمان بابا ديوان مرتب کړے. د سکندر خان خټک ديوان ئې مرتب کړے اؤ مقدمه ئې هم پرې ليکلې. د "1916" په نوم ئې تحقيقي کتاب ليکلے چې د کلاسيکي ادب په حقله ډېر نوي مواد لري. په خوشحال خان خټک چې خارجيانو څومره کار کړے وۀ د هغې يؤ تنقيد جاج ئې اخستې اؤ د "آن اے فارن اپروچ ټو خوشحال" په نوم ئې انګرېزئ کښې کتاب ليکلے چې بيا وروستو پښتو ترجمه ئې شوې. دې سره سره ئې په مختلفو کتابونو مقدمې ليکلي چې وروستو ډاکټر زبېر حسرت راټولې کړي دي اؤ کتابي شکل کښې د "ادبي مقدمې" په نوم چاپ دي. دغه رنګ مختلفو مجلو اؤ ورځپاڼو کښې هم د کامل مومند مختلف نثري ليکونه چاپ دي. د کامل مومند خدمات اؤ پښتو ژبې اؤ ادب ته ورکړه د معيار اؤ مقدار دواړو په حواله بې مثاله ده.

قلندر مومند:

قلندر مومند په نثر کښې ډېر لوے خدمات تر سره کړي دي. دغه مد کښې هغه د افسانې په حواله يؤ قابل قدر ليکونکے وۀ اؤ د پښتو افسانې په وده کښې د هغۀ نوم نۀ اخستل به د هغۀ سره زياتے وي. دې سلسله کښې د هغۀ کتاب "ګجرې"(چاپ1958) د ستاينې وړ کتاب دے.

دا رنګ د تحقيق اؤ تنقيد په لړ کښې د هغۀ خورې ورې مقالې چې مختلفو مجلو کښې وخت په وخت چاپ شوے وې اؤ بيا وروستو د ميزان په

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04
ماخذ تحقیقی مجلہ

نوم کتابي شکل کښې شائع شوي خو ولې زيات د اهميت وړ د هغۀ دوه مشهور کتابونه دي. وړومبے پټه خزانه فی الميزان، اؤ دويم د خېرالبيان تنقيدي مطالعه. پټه خزانه واقعي چې د پښتو ادب د تاريخ په حقله يؤ انقلابي کتاب دے چې ډېر نوي معلومات ئې راڅرګند کړل چې دې نه وړاندې نۀ وو خو ولې د ډېرو تاريخي غلطو په وجه قلندر مومند هغه يؤ جعلي کتاب وګڼلو اؤ د پټه خزانه فی الميزان په شکل کښې ئې د پټې خزانې ټولې خامی اؤ غلطی په ګوته کړې. دغه رنګ خېرالبيان چې د پښتو وړومبے معلوم پوره کتاب دے نو پښتو ادب کښې ئې يؤ لوے اهميت دے. قلندر مومند دغه کتاب د خپل تحقيقي اؤ تنقيدي نظر نه وپستے اؤ د خېر البيان په حقله اؤ هغې سره متعلق ډېرې نوې خبرې ئې مخې ته راؤړي دي. د قلندر مومند په مشری کښې د "درياب" په نوم يؤ داسې لغت تيار شوے چې تر دې دمه پښتو کښې تر ټولو مستند اؤ اهم لغت ګڼلے شي.دا د صوبائي حکومت لۀ خوا په کال 1983 کښې د يؤ پراجېکټ په توګه قلندر مومند ته حواله شوے وۀ اؤ دې کښې ورسره اګر چې نورو خلقو هم کار کړے خو سرپستي اؤ لارښؤدنه ئې قلندر مومند کوله ځکه نو دا معياري لغت په کال 1993 کښې چاپ شو.

دې نه علاوه ئې د هډسن د کتاب An introduction to the study of literarture د يؤ باب ترجمه اؤ تلخيص د تنقيد په نوم کړے. د ارسطو د مشهور کتاب "پوئټکس" ترجمه اؤ تبصره ئې د نظميات په نوم کړے. د شکسپېئر د مشهورې ډرامې مېکبث منظومه پښتو ترجمه ئې کړې. دغه رنګ د ابوالقاسم اؤ د محمدؐي صاحبزاده ديوانونه ئې مرتب کړي اؤ چاپ کړي دي. د پښتو اکېډمۍ د يؤ پراجکټ دپاره ئې "د محنت قدر" ، " سندهي ژبه اؤ ادب" اؤ " د زمکې قيصې" نومې کتابونه ليکلي دي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04
ماخذ تحقیقی مجلہ

پښتو ژبې او ادب ته کۀ د قلندر مومند خدمات لرې کړو نو پښتو به ډېره د مايوسی حالت ته لاړه شي. د قلندر مومند دا خدمات دي چې پښتو ژبه او ادب ئې درانۀ کړي دي.

وزير محمد گل خان مومند (1263هـ -1343هـ)

وزير محمد گل خان مومند د کابل سره تعلق لرونکے د پښتو ژبې او ادب يو ډېر دروند او عالم فاضل شخصيت وۀ. د دوي د علمي پراختيا او ادبي خدماتو دائره ډېره وسيعه ده. د مومند قبيلې د حسن خېل شاخ سره ئې تعلق لرلو.

د "د پښتو سيند" په نوم لغت تيارول د وزير محمد گل خان مومند يوه لويه کارنامه وه چې سوونو زاړۀ لفظونه ئې محفوظ کړي.د لفظونو معنې او تشريح ئې ورسره پۀ فارسي کښې هم کړې دي. دغه رنگ "د پښتو ژبې لياره" پۀ نوم ئې د پښتو د گرامر پۀ مسائلو يو اهم کتاب دے. د "لنډکی پښتو او پښتونواله" پۀ ئې د پښتنو پۀ کلتور او دود دستور رسم و رواج غرض د پښتون ولی پۀ حقله ډېر جامع او مانع بحث کړے. دغه د وزير محمد گل خان مومند پۀ نورو اثارو کښې "پخلے"، "پښتني تربيه"، "پخواني ملي او ادبي اصطلاحات" او داسې نور شامل دي. کۀ وزير محمد گل خان مومند خوارۀ وارۀ ليکونه او پۀ کتابونو مقدمې راټول کړي شي نو هغه هم لوے کار دے.

خواجه محمد سائل (1938-2021)

خواجه محمد سائل د بهادر کلي پېښور سره تعلق لرلو او د پلار نوم ئې دوست محمد خان وۀ. د مومند قبيلې سره تعلق لرلو او د تحقيق پۀ مېدان کښې ئې ډېر د قدر وړ کار کړے دے.

د "خوشحاليات او حقائق" پۀ نوم کتاب ئې د خوشحال بابا پۀ حقله يو هنگامه خېز کتاب دے چې د خوشحال يو دويم مخ خلقو ته وړاندې کوي. د حميد بابا پۀ حقله ئې دوه کتابونه ليکلي چې د "د عبدالحميد بابا ژوند او شاعري" او "حميد

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
[https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04](https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04)
ماخذ تحقیقی مجلہ

بابا او رومانیت" په نومونو چاپ دي. دغه رنګ د "د باړه مومند تاریخ" په نوم ئې دوه جلده کتاب چاپ دے چې د ضخامت سره تحقیقي طور هم ډېر دقیق کار دے. د "پښتانهٔ او پنجاب په سکهـ شاهي دور کښې" په نوم ئې هم تحقیقي کتاب چاپ دے او د پښتنو د نسلي څېړنې په بابله ئې د "یهودیت او پښتانهٔ" په نوم یو دقیق کتاب لیکلے. د خپلو دغو تحقیقي کارونو په بنیاد خواجه مُحمّد سائل د پښتو تحقیق په مېدان کښې لوے حېثیت لري. هغه چې پښتو ژبې ته څهٔ ورکړي هغه به زمانو زمانو یاد وي.

ایاز الله ترکزے:

ایاز الله ترکزے د موجوده عصر یو ښهٔ لیکوال دے چې په ختهٔ ترکزے مومند دے او د پېښور پوهنتون د څانګې پي ایچ ډي سکالر دے. هغهٔ په یو شمېر موضوعاتو کتابونه لیکلي او د پښتو ژبې او ادب لمنه ئې درنه کړې ده. د هغهٔ کتابونو کښې دا لاندې کتابونه شامل دي.

جونګړه (ناول)، ګل سپرلے (شاعري)، درشل (افسانې)، د پښتو ژبې د ناول نګار پرویز شېخ د فن او شخصیت یوه تحقیقي او تنقیدي مطالعه، تورمخونه (افسانې)، دیوان فرید جان استاد (ترتیب او تدوین)، کوچ مال (د فرید جان استاد منظوم آثار)، جامونه د زم زم (سفرنامه)، د ډاکټر شېرزمان سیماب د فکر او فن هنداره، رحمان بابا او انبیاء کرام، تحقیقي مقاله څنګه لیکلې کېږي؟، غني نامې، نقد و تنقیح، سعدالله جان برق: شخصیت فکر او فن، تحقیق پوهنه، پټ پټونے (افسانې)، د همېش خلیل کلیات (ترتیب او تدوین)، قرنطین (افسانې)، پښتو ادب کښې خاکه نګاري، د غني خان کلیات (لټون او سمون د فېصل فاران سره په شریکه.دے نه معلومېږي چې ایازالله ترکزے یو بسیار نویس

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-04
ماخذ تحقیقی مجلہ

لیکوال دے اؤ پښتو ته ئې ډېر څۀ ورکړي دي اؤ لا اوس هم لګیا دے خپل ادبي سفر جاري ساتي.

حوالې

۱: ډاکټر نګاه حسېن نګاه، د پېښور مومند او د پښتو نثري ادب، مخ 59، اشاعت 2022، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور
۲:عبدالله جان عابد، پشتو زبان و ادب کی مختصر تاریخ، مخ 100، اشاعت 2017، یونیورستي پبلشرز، پېښور
۳ :صدیق الله رښتین، پیاوړي شاعران، مخ112، اشاعت1993، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور
۴:هم دغه، مخ 120
۵:هم دغه، مخ 153
۶ : همېش خلیل، پښتانۀ لیکوال، اول ټوک، مخ 412، جولائي 2010، یونیورستي پبلشرز، پېښور